# په افغانستان کې له فساد سره مبارزه

## روڼتیا، امانتداري او حساب ورکول زیاتوي

*د راپور لنډیز*



UNAMA

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت

اګسټ ۲۰۲۱

## د راپور لنډیز

د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر ترمیاشتې پورې له افغانستان څخه د ټولو امریکایي او نړیوالو ځواکونو دوتلو په اړه وروستۍ پریکړه او د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د سیاسي خبرو اترو پیلیدو ، افغانستان د تاریخ له یو حساس پړاو سره مخامخ کړی. د سولې دخبرو دراتلونکي څرنګوالي په اړه ناڅرګندتیا، د امنیت خرابیدونکي وضعیت، د کوویډ-۱۹ وبا له امله رامنځته شوی ګواښ، ژور بشري بحران او د نړیوالې ټولنې د شکېلتیا د راتلونکې کچې په اړه ناڅرګندتیا، داټول د تل پاتې سولې، سوکالۍ او امنیتي لاسته راوړنو لپاره لوی ګواښونه وړاندې کوي.

د دې ننګونې دشالید په مقابل کې ، حکومت اړتیا لري د اساسي امنیت ، عدالت او ښې حکومتدارۍ د وړاندې کولو لپاره پراخه ورتیا وښيې. پرته لدې چې دغه مسایل په دوامداره توګه حل نه شي ، فساد به د شخړې یو مهم لامل وي چې د خلکو بې باوري او ناخوښې ډیروي ، جرم او غیر قانوني فعالیتونه هڅوي او د دولت مشروعیت کمزوری کوي. حکومت په دوامداره توګه منې چې فساد د سولې او پرمختګ لپاره موجود ګواښ دی[1]. یوناما د 2020 کال په نومبر کې د جنیوا په بسپنه ورکونکې کنفرانس کې د حکومت لخوا دشوې ژمنې هرکلی کوي ترڅو "په دولتي ادارو کې د فساد دلاملونو او څرګندونو دواړه دپه نښه کولو لپاره قوي ګامونه پورته کړي" ، لکه څرنګه چې د افغانستان د ملګرتیا چوکاټ د اصلاح په لومړیتوبونو کې تشریح شوي او د بسپنه ورکونکو او افغان حکومت ترمنځ پرې هوکړه شوې.

په افغانستان کې د اداري فساد پروړاندې دا پنځم کلنی راپور، چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) لخوا خپور شوی د ۲۰۲۰ کا له جنورۍ څخه د ۲۰۲۱ کال د مې تر میاشتې پورې موده  یې تر پوښښ لاندې نیولې. د دې مودې په جریان کې ، حکومت د فساد ضد اصلاحاتو ملاتړ ته دوام ورکړی ، که څه هم د کوویډ-۱۹ وبا ناوړه اغیزې ، د سولې روانې خبرې او د نړیوالو ځواکونو د وتلو له اعلان وروسته د تاوتریخوالي زیاتیدلوړ ، په هرصورت د اصلاحاتو چټکتیا ورو کړی. خ د اداری فساد پر وړاندې د مبارزې رجحان (trend) د تدریجي پرمختګ سره مل و. افغانستان اوس د شفافیت نړیوال سازمان د اداري فساد د ۲۰۲۰ کال[2] د ادراک په شاخص کې د ۱۸۰ هیوادونو په ډله ۱۶۵ ځای لري چې په ۲۰۱۹ کال کې یې ۱۷۳ مقام ترلاسه کړې و. په تیرو څو کلونو کې، افغنستان د اداري فساد پروړاندې د پیاوړي قانوني چوکاټ د رامنځ ته کولو په برخه کې مهم او مثبت ګامونه پورته کړي او د یاد چوکاټ د پلي کولو لپاره یې ځانګړي ارګانونه ګمارلي دي. د اداري فساد دمخنیوي او مبارزې ملي قانوني چوکاټ کې د جزا قانون، د فساد پروړاندې د ملګرو ملتونو دکنوانسیون له اړتیاو سره مطابقت لري، د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې قانون، د اطلاع ورکوونکو د ساتنې قانون، د شتمنیو د اشاعې او ثبت قانون، معلوماتو ته د لاسرسی قانون او د پیسو مینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شوو عواید سره د مبارزې قانون، شامل دي. د ې  چوکاټ  د اداري فساد ضد اقداماتو لپاره یو لازم قانوني بنسټ (مبنی) رامنځته کړ. لیکن، د یادو قوانینو پلي کول لاهم یوه ننګونه ده.. له همدې امله، د ملي شورا او دولت ترمنځ پر خپل  وخت د قانون جوړونې لپاره لا ښه همکارۍ اړینه ده.

له اداري فساد سره د مبارزې لپاره او د قانوني چوکاټ په پلي کولو کې د مرستې په موخه، مهمې او اصلې اداري رامنځته شوي دي، چې په هغو ادارو کې د قانون د واکمنۍ او حکومتولۍ عالي شورای ، د اداري فساد له درنو جرمونو سره د مبارزې عدلي او قضایي مرکز ، د شتمنیو د اشاعې او ثبت اداره، ، د مالي استخباراتو واحد (FinTRACA) او معلوماتو ته د لاسرسي کمیسیون، شامل دي.  لوېي څارنوالۍ هم د اداري فساد د قضیېو څېړلو او محاکمه کولو لپاره د څارنوالۍ یوه ځانګړې څانګه هم جوړه کړې.

د ۲۰۲۰کال په نومبر کې د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د کمیسیون رامنځته کول، د اداري فساد پروړاندې د مبارزې چوکاټ ته د ودې ورکولو لپاره یو مهم پړاو ښيې، مګر اړتیا ده چې له یاد کمیسیون څخه قوي ملاتړ وشي او کافي سرچینې

---

[1] د افغانستان د سولې او انکشاف دویم ملی چوکاټ (۲۰۲۵-۲۵) https://um.fi/about-the-conference

[2] د شفافیت نړیوال سازمان، د اداري فساد په اړه د ۲۰۲۰ کال د ادراک شاخص، (د شفافیت نړیوال سازمان: برلین، ۲۰۲۰) چې په لاندې لینک کې د لاسرسي وړ ده   https://www.transparency.org/en/cpi/2020/index/afg.

ورته برابرې شي، ترڅو  یاد کمیسیون ته وړتیا ورکولی شي چې خپلې دندې په خپلواک او مؤثره توګه ترسره کړي. ورته ملاتړ د اداري فساد درنو جرمونو سره د مبارزې عدلي او قضایي مرکز ، د کورنیو چارو وزارت لاندې د جرمونو لوی کاري ځواک او د مالي استخباراتو واحد (FinTRACA) باندې هم پلي کیږي.

د اداري فساد پر ضد د ټولو اړخونو سره په کلکه ښکیلتیا، د خصوصي او عامه سکتورونو او مدني ټولنو په ګډون ، داداري فساد پروړاندې د مبارزې کمیسیون باید د فساد د ریښو لاملونه او  له اداري فساد سره په مبارزه کې د حکومت ریښتیني ژمنتیا بیان کړي، په دې کې  له ۲۰۲۲ وروسته په اغیزمن ډول له اداري فساد سره د مبارزې دنوې ستراتیژۍ پلي کول پر خپل  وخت نهایي کول او  څارنه کول شامل دي. نوې ستراتیژي باید تر ننۍ نیټې د پلي شویو اصلاحاتو اغیزو ته د بشپړې او خپلواکه بیاکتنې پر بنسټ جوړه شي او د نوې ستراتیژۍ موخه باید د باور،  ریښتینولۍ ، روڼتیا او دحساب ورکولو  دکلتور رامنځته کول او پیاوړي کول وي.

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو دخپلواک کمیسیون لخوا د دولتي پوستونو لپاره د وړتیا پراساس د ګمارنو د روان بهیر بنسټیز کولو له لارې د بشري سرچینو مدیریت کې شو ی پرمختګ ، په سیمه ایزه کچه د پوستونو دلوړتیا  له په پام کې نیولو  پرته دوام ته اړتیا لري.

 په داسی حال کی چی  ګڼ شمیر دولتي چارواکو خپلې شتمنۍ د شتمنیو د نوي قانون سره سم ثبت کړي. خو، د یاد قانون څخه سرغړونه (نه مطابقت)، لاهم د اندیښنې وړ خبره ده. د پروسې د اغیزمنتوب د ښه والي او د هغو چارواکو د مجازاتو لپاره ګامونه اخیستل پکار دي چې د شتمنیو په ثبتولو کې پاتې راځي.

د اداري فساد د درنو جرمونو د مرتکبینو لپاره د جرمي حساب ورکونې د پیاوړي کولو لپاره د افغانستان قانوني چوکاټ مؤثره پلي کول، پرته لدې چې د هغوی شتمنې او سیاسي تړاوونه په پام کې ونیول شي، باید هم د مخنیوي په برخه کې او هم د  ولسی (دخلکو) باور په لوړولو کې، د مهم لومړیتوب په توګه پاتې شي. د کووېډ-۱۹ له امله له محدودیتونو سره سره، د ۲۰۲۰ کال په دوهمه نیمایي کې، د اداري فساد درنو جرمونو پر وړاندې د  عدلي او قضایي مرکز په کار کې چټکتیا راغله.  چې دا د لوړ پوړو چارواکو، په شمول د اردو او پارلمان د غړو، پروړاندې د لا نورو تورونو او محاکمو څخه په ثبوت رسیدلی. په هرصورت ، د اداري فساد درنو جرمونو سره د مبارزې عدلي او قضایي مرکز د کلیدي کارمندانو وروستي بدلون اندیښنې راپورته  کړي  اودا چاره ممکن د دې کار ثبات زیانمن کړي.  ستری محکمی د فساد ضد قضیو په محاکمه کې اړین رول لوبولو ته دوام ورکوي او باید پدې برخه کې خپلې هڅې ګړندۍ کړي.. د تورنو مرتکبینو په مؤثره توګه محاکمه کول د لوی جرمونو دکاري ځواک ظرفیت پیاوړي کولو ته اړتیا لري ترڅو مؤثره او په وخت سره د جلب او احضار او ګرفتاری قرارونه اجرا کړي.

د اداري فساد ضد په ټولو قضیو کې د نهایي پریکړو دخپرولو په موخه د جزا په قانون کې تعدیل او د دې تر څنګ، قاضیانو ته د سترې محکمې هغه لارښوونه چې هغوی باید د جزا صادرولو لپاره په فیصلو کې خپل دلایل بیان او دغه چاره د شواهدو پراساس ترسره کړي، که چیرې په دوامداره توګه پلي شي، باید د داسې ډول قضیو د عدلي تعقیب او محاکمو په اړه د شفافیت او عامه پوهاوي لامل شي.

ناامني لاهم یوه ننګونه ده. بلواګر او جنایي ډلې لا هم  قضایي پرسونل یو د اصلي اهدافو په توګه په نښه کوي. د ۲۰۲۰کال په جریان کې، یوناما ۲۹ پیښې مستندې کړې چې د قضایي سکتور کارکونکي یې په نښه کړي، چې په هغو کې قاضیان، څارنوالان او نور  کاکونکي چې د محکمو او څارنوالیو لپاره کار کوي، شامل دي. د یادو  پیښو په پایله کې ۲۷ کسان وژل شوي او ۱۷ تنه نور ټپیان شوي، چې دغه شمیره د ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ مو کلونو پرتله، د پام وړ زیاتوالی ښیې. د ۲۰۲۱ کال د جنورۍ په  میاشت کی، وسله والو دوه ښځینه قاضیانې په کابل کې هغه مهال په ډزو شهیدی کړې چې سترې محکمې ته د دندې ترسره کولو لپاره په لاره روانې وې. د عدلي او قضایي سکتور  د کارکونکو پر وړاندې ډیر کم بریدونه په کافي اندازه څیړل شوي  ترڅو مسؤل کسان یې محاکمه شي. دغه موقتي  معافیت قضائیه قوه نوره هم زیان منونکې کړې ده.

د قضیو د مدیریت سیسټم په ۲۰۲۰کال کې د افغانستان قضیو د مدیریت رسمي سیسټم په توګه ومنل شو ترڅو په ټول جزایي او مدني عدلي سیسټم کې قضیې تعقیب شي، او په دې توګه موثریت او شفافیت ته وده ورکړي. د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر په میاشت کې د هغې مقررې تصویب یو ښه پرمختګ دی چې د یاد سیستم په کارولو کې د ټولو ادارو دندې په مقرره کې تعریف کړي د یاد سیسټم د پایښت دتضمین لپاره حکومت باید داډ ترلاسه کړي چې اداري په مؤثر ډول له دې سیستمه ګټه اخلي او ددې سیستم د لا پیاوړي کولو او ساتنې لپاره -څرنګه چې ورته اړتیا وي- کار وکړي ترڅو د فساد فرصتونه کم کړي.

د فساد په قضیو کې د غلا شویو عامه شتمنیو دبیرته راستنیدو په اړه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره روانې هڅې د دولت او خلکو په ګټه باید بیرته پیاوړې شي. . په ۲۰۲۰ کال کې د شتمنیو د بیرته راګرځولو د مقررې تصویب، د شتمنیو د بیرته اخیستو لپاره قانوني چوکاټ فعالوي او د جرمونو او نورو غیرقانوني شتمنیو دلاسته راوړنې دګرندي کولو لپاره باید د خیز د تختې په توګه وکارول شي، په ځانګړې توګه د قوي سیمه ییز او نړیوالې همکارۍ له لارې.

معلوماتو ته د لاسرسي له لارې په حکومت کې پراخه روڼتیا د اداري فساد پروړاندې مبارزې لپاره اړینه ده.

معلوماتو لپاره د غوښتنو سره مطابقت نه درلودل، معلوماتو ته د لاسرسي کمیسیون، رسنیو او افغان وګړو ته د لاسرسي په پایله کې هغه معلومات په مستقل ډول نه ترلاسه کوي چې باید عام شي. حکومت باید د دولتي چارواکو تر منځ اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په اړه پوهاوي او مطابقت ته وده ورکړي

د مالیې وزارت لخوا د عامه تمویل او د عوایدو د منظم مدیریت لپاره روانې هڅې، په بیله بیا د خدماتو وړاندې کولو ته وده ورکولو لپاره د پلټنو او مطابقت نظارت زیاتول، په محلی او ملي کچه ، باید دوامداره او قوي وي.

د کوویډ-۱۹ پر وړاندې د حکومت په اقداماتو کې فساد او درغلي پراخه پیښې، د راپورونو له مخې چې چارواکې د شخصي ګټې لپاره یاد ناورین څخه ناوړه ګټه پورته کوي او دا چې خورا ډیر اړینې مرستې غلا کوي، نه یوازې د ټولنې خورا زیان منونکو غړو باندې منفي اغیزه کوي همدارنګه سیاسي او امنیتي عواقب هم لري. پداسې حال کې چې د ۲۰۲۰ د اکتوبر په میاشت کې، د اداري فساد درنو جرمونو پروړاندې د عدلي او قضایي مرکز د ابتداییه محکمې لخوا، د کوویډ-۱۹ اړوند رشوت جرمونو له امله د عامې روغتیا وزارت د دریو کاکونکو محکومیت، یو ښه پرمختګ دی، بلکې یو قوی سیګنال یې هم ولیږداوه. د کوویډ-۱۹ لپاره د بودیجې او مالي مرستو د تخصیص او ویش په تړاو د حساب ورکونې او څارنې زیاتوالی اړین پاتی کیږی.

پداسې حال کې چې دغه راپور د دولت پر هڅو ژور تمرکز لري، همدارنګه دغه راپور د فعاله او خپلواکه کمیسیونونو او ارګانونو - د محتسب (بازرس) د دفتر په ګډون چی اوس له فساد سره د مبارزی په کمیسون کې مدغم شوی- مرکزي اهمیت او د آزادو رسنیو او د مدني ټولنو مهم رول د فساد په افشا کولو او مبارزه کې هم پیژني. د بیاکتنې دورې په جریان کې، خبریالان په خواشینۍ سره د جدي بریدونو او وژنو قرباني شوي دي. دا بریدونه د غچ اخیستنې له ویرې پرته د رسنیو د راپور ورکولو وړتیا کموي. حکومت باید د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالي د دغې لړی پای ته رسولو لپاره، د عاملینو د محاکمی او د خبریالانو خوندیتوب ته د ودې ورکولو لپاره قوي اقدام وکړي. مدني ټولنه، په ټولیزه توګه، باید د فساد ضد اصلاحاتو کې قوي رول لوبولو ته دوام ورکړي.